مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجی محمد نوزادی

۲۰۱۸/۱۲/۲۷

# د لیاخوفسکی له نظره د ناورین پیل

## (لومړۍ برخه)

هـــر یو مخ کله لایـق وی د آبـرویــو
اوبنکی نه درومی پر مخ د هر ناولي
(رحمان بابا)

یو روسی متل وایی : « چی څوک زور لری نو دعقل اړتیا ئی نشته » . کله چی دبرژنیف کم عقله باند په یوه ناسنجولي عمل سره پرخپل یوه دوست هیواد افغانستان باندی چی لخوائی د هیڅ ډول خطر ډار نه درلود ، دیرغل تکل وکړ، هغه ئی اشغال او دمنځنۍ اسیا دخپلو مستعمرو پشان ئی د روسفیکیشن پلانونه ورپکښی پکار واچول ، نوهغه وخت ما داسی فکر کاوه چی دامتل د روسانو دکړو وړو سره د سمون له مخی منځته راغلی دی او یوازی ددغه اولس د واکمنانو ځانګړیتوب ښئی. دنړۍ د یو قطبی کیدلو وروسته امریکا ځان یو بی رقیبه څواک وموند او خپلسرۍ ئی پیل کړه . نژدی دتولي نړۍ دمخالفت سره سره پر عراق باندی د بوش یرغل ودی پایلي ته ورسولم چی دامتل دهر زورور سره سمون خوړلای شی . وروسته پدی باور شوم چی اصلا بشری ټولنه لاتر اوسه د ذهني ودی او تکامل په ډیرو کښتو پړاوونو کي واقع ده، اوسنۍ نړیوالي اړیکی او په ملي کچه ځان غوښتني د زورلرونکو هیوادونو دمشرانو ذهنیت داسی عیار کړی دی چی ددغه زنځیر په هري کړۍ کی باید له هرڅه نه وړاندی خپلي شخصی ګټی په پام کی ولری او د دغو ګټو پربنسټ بیا ملی ګټو او یا نړیوالو ارزښتونو ته پام واړوي . ددغی خبری دثبوت دپاره کیدلای شی په یوه یا بل شکل کی دیادوني وړ ډیري بیلګی په ګوته شی . د دی ډول بیلګو څخه یوه تر ټولو کرغیړنه ئی په ۱۹۷۹کی دکرملین دناپوهو واکدارانو په برخه شوه . د۱۳۵۸ کال دجدی شپږمه نیټه دافغانانو دهغي غمیزی پیل دی چی پایلي ئی دپرافغان مین اولس په میرانه دنړۍ په تاریخ کی دشوروی امپراتورۍ په نړیدو سره یو نوی پړاو رامنځته کړ. ددغه بشری ناورین څخه که هرڅا دخپل توان او وړتیا په پیمانه ګټه ترلاسه کړه ، خو یوازی افغانان دی چی په کور کی ئی دکرملین په مردارو لاسونو د بل شوی اور لمبی لا اوس هم د اسمان لورته په جګیدو دی .

راشي وګورو چی نوموړي کرغیړنه پریکړه دغه انسان دښمن شیطاني څواک په کوم دلیل او دڅه پخاطر ترسره کړه . جنرال لیاخوفسکی په خپل ( دافغان میرانه او غمیزه ) نومی کتاب کی داخبره لا اوس هم یوه معما ګڼلي ده . په دغه کتاب کی لیکوال دنوموړي غمیزی مختلف اړخونه څیړلي چي دلوستلو وړ ټکي می دلته را سپړلي دی . غواړم دهمدغی توری ورځی په پلمه دده دکتاب نه داګړۍ یوازی دهغه د دوهم پاړکی ( فصل ) نه چی سرلیک ئی (افغانستان ته دپوځونو دلیږلو په باب ستونزمنه پریکړه ) دی ، یو څو کرښی وښنم او د لوستونکو مخ ته ئی کښیږدم : لیکوال که دیوی خوا هڅه کړی دا وښئی چی افغانستان ته دشوروی پوځونو لیږل، دافغانی مشرانو ( نورمحمد تره کی او حفیظ الله امین ) داړتیاوو له مخی د هغوي په غوښتنه اودهغوی سره دمرستي په موخه ترسره شوی دی ، خو دبله پلوه هغه د ( کی جی بی ) لخوا وړاندی شوی اسناد او دلیلونه چی لیکوال دافغانی مشرانو دغوښتنو په هکله دلته نقل کړیدی، دهغو کړنو سره هیڅ ډول سمون نلری، کوم چی دغه پوځ دافغان خاوری داشغال په موخه ترسره کړه . دی په هغه په اصطلاح سند کی چی دنورمحمد تره کی او کاسیګین ترمنځ دتلیفوني خبرو جریان پکی لیکل شویدی، ښئی چی دهرات تربلوا وروسته دبلوا دځپلو پخاطر نورمحمد تره کي د کاسیګین نه دپوځی مرستو غوښتنه کوی او کاسیګین دنړۍ او سیمي دشرایطو په نظر کی نیولو سره د پوځونو لیږل د دواړو خواوو په ګټه نه بولي او پایلي ئی دخطره ډکی بولي . ددی خبرو اترو جریان دکتاب په ۷٤ مخ کی پدی کرښو پای ته رسیږی :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(... دغه خبری په کابل کی دلوی پوځی سلاکار جنرال ل. ګاریلوف دیاور لخوا ژباړل کیدلي او د ب. باځانوف لخوا ثبت کیدلی) . که څه هم دکتاب په ۸۸ مخ کی لیکوال پخپله لیکی چی : (... دهرات بلوا حکومت ته وفادارو ځواکونو پرته لدی چی د شوروی پوځونو مرسته تر لاسه کړی، پخپله وځپله ). له دی نه چی تیرشو په لوړه موضوع کی دحقیقت څرګندولو په هکله منطق ډیر کمزوري ښکاری ځکه اول داچی دي خبرو دکابل او مسکو تر منځ په تلیفون کی جریان درلود او ترهغه ځایه چی زه معلومات لرم ، تره کی او کاسیګین دواړه په انګریزی ژبه پوره بلد خلګ وه او و ژباړونکي ته اړتیا نه بریښیده . دوهم داچی (کی جی بی) پخپله په مسکوکی دثبتولو بشپړ امکانات درلوده ، او پدی خاطر نو په کابل کی بیا ددوی د اجنټانو لخوا دثبتولو ضرورت څه وو ؟ لیاخوفسکی له یوی خوا دکتاب په ۹۲ مخ کی دیوه پټ راپور له مخی دحفیظ الله امین دخولي لیکي چی دشوروی پوځی ټولګي که افغانستان ته را ولیږلی شی نو په جګړو کی به ونډه نه اخلي اویوازی به دیوه ډاډمن ډال په توګه دنده سرته رسوی، خو لږ وروسته په ۹۳ مخ کی بیا دیوه بل پټ راپور پر بنسټ همدارنګه دحفیظ الله امین له قوله لیکی چی دشوروی څرخکو (هیلیکوپټرونو) نه به دپاکستان څخه دراليږل کیدونکو یاغیانو او تروریستانو پرخلاف په جګړو کی کار واخیستل شی . دلته زما په اند دوه ټکي دپام وړ دی چی دموضوع رښتینوالی تر سوال لاندی راولي :

الف - دغه دوه راپورونه دیو دبل ضد غوښتني رامنځته کوی .

ب - ټولي نړۍ اوپه ځانګړي توګه دافغانانو پاخه نسل ته معلومه ده چی په هغه وخت کی لا دپاکستان څخه دوسله والو یاغیانو او تروریستانو داسي ډله ایزه رالیږنه پیل شوی نه وه چی دهغوی سره دی دجګړه ایزو عملیاتو ضرورت دومره زیات شی چی له بل هیواد نه ئی پرضد پوځی مرسته وغوښتله شی ، داخبره دوخت دواقعتونوسره هیڅ سر نه خوری . ښاغلی لیاخوفسکی همدارنګه د( کی جی بی ) یوه بله ځانګړی دوسیه ( بیخی پټ لاسوند ) پرانیزی چی هلته دشوروی اتحاد کمونیستی ګوند د سیاسی بیرو دیوی غونډی جریان ثبت شویدی، چیری چی پ. کیریلنکو، ف .اوستینوف (دملي دفاع وزیر)، ن. کاسیګین (دوزیرانو دشورا رئیس یا صدراعظم )، ی. اندروپوف ( د کی جی بی رئیس ) ، ک. چرنینکو، ل. زمیاتین او دخارجی چارو وزیر ښاغلی ا. ګرومیکو حاضر دی او افغانستان ته دپوځی ټولګیو د احتمالي لیږلو موضوع څیړی ( دکتاب د ۷۵ - ۷۹ مخونو پوری ) . پدی راپور کی دهر یوه حاضر غړی دنظر ټکی درج شوی چی هریوه په خپل وار دپوځونو دلیږلو سره په ډاګه مخالفت څرګند کړي او دخپل مخالفت دلیلونه ئی هم په ګوته کړیدی . دیادوني وړ ده چی په سند کی تاریخ ندی ښودل شوی او دخبرو دجریان نه داسی ښکاری چی پخپله برژنیف په جلسه ګډون ندی کړی.

د لومړۍ برخي پای .

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ